مسئولیت متن و شکل بدوش نویسندۀ مضمون میباشد، عقیدۀ نویسنده لزوماً نظر افغان جرمن آنلاین نمی باشد

محمد انور آخړ
۲۰۲۲/۰۶/۲۶

# د ښځو لیک لوست په اسلام کې (د نجونو زده کړې)

(دوولسمه برخه)

**پښتانه لره شړی اښپړی بس دی**
**نه په فکر د ګلیم نه د توشک یم**
(خوشال بابا)

وایي چې «نه پوهېږې لوړ ځای ته پورته شه، وګوره چې ډېر خلک څه کوي، هغه شان ته هم کوه.»
دا په دې مانا چې نن ورځ دا لویه نړی د ټکنالوژۍ پر مرسته د یو کلي په څېر سره نږدې شوي ده چې د هېوادونو مرستې او همکارۍ یې د یوې کورنۍ په شان سره اوبدلي او تړلي دي. دا امکان نه لري چې په دې (۲۱مه) پېړۍ کې یو هېواد د نړیوالو له همکاریو پرته پرمخ ولاړ شي، دا چې نړۍ د یوې کورنۍ حیثیت لري، په دې بنسټ زموږ هېواد هم د دغې کورنۍ غړی دی. د یو هېواد دولت داسې څه باید ونه کړي چې له کبله یې د نړۍ ټول وګړي خوابدي شي او په نتیجه کې له نړۍ ګوښه پاتې شي چې ښه بېلګه یې زموږ په هېواد کې د نجونو پر زده کړو بندیز او ځینې نور مسایل دي.
د نجونو د زده کړو د بندیز له امله ټول نړیوال، هغه که په هر دین او یا په هر توکم پورې تړلي وو خورا خواشیني او حیران شول او په غبرګون کې یې ډېرې اقتصادي مرستې پر افغانستان ودرول شوې او د دننه په هېواد کې یې ټول افغان ولس له سختې خواشینۍ او ناهیلۍ سره مخ کړ.
له دې امله ده چې نړیوال د بشردوستۍ د خواخوږۍ پر بنسټ (چې ټول انسانان سره ورونه او د آدم (ع) زامن دي) او نړۍ د یوې کورنۍ په څېر ده، د نجونو د زده کړو پر بندیز نیوکې کوي.
د امارت چارواکو په وار، وار ویلي دي چې د لنډې مودې لپاره له شپږم ټولګي پورته د نجونو زده کړې ځنډول شوي دي خو دا لنډه موده دومره اوږده شوه چې هره ورځ مبندې او پلرونه د خپلو لوڼو له پوښتنو سره مخ دي، هغه ورځ چې د ښوونځی د پیل لومړۍ ورځ وه زما دوې لوڼې، (ولوله او پښتنه) چې د لسم ټولګي زده کوونکې دي، د ښوونځي له دروازې څخه په ژړا راستنې شوې وې، کله چې زه کور ته راغلم دواړه زما په نتظار ولاړې وې او په غبرګ او ژړغونې آواز یې وویل:«طالبانو ښوونځي وتړل.» ما چې د دوی ناهیلی حالت ولید نږدې وو چې زه سم ورسره وژاړم خو ځان مې ټینګ کړ او دوی ته مې ډاډ ورکړ، ومې ویل دا امکان نه لري چې ښوونځي وتړل شي، د ښوونځیو تړل د لنډې مودې لپاره د ځینو ستونزو له کبله دي، نه د تل لپاره ... .
د یادولو ده چې الله تعالی زموږ پر کورنۍ باندې لوی فضل کړی دی داسې چې زموږ د کورنۍ ټول غړي د لوړو استعدادونو او پوهې خاوندان دي چې په هغو کې د لسم ټولګي زده کوونکي ولوله چې ډېرې ښې لنډې کېسې لیکي خو له طب مسلک سره هم ډېره علاقه لري، غواړي په راتلونکي کې ډاکټره وي، په هغه ورځ چې له خپلې خور پښتنې سره له ښوونځي په ژړا کور ته ستنه شوې وه نو د (غلا شوي هیلې) تر سرلیک لاندې یې لنډه لیکنه ولیکله چې په اصل کې یې د خپل ځان انځور ښودلی، نوموړي لیکنه هغه مهال د مومند آخړ په فیس بوک خپره شوې ده، دلته هم د خپرولو وړ ده:

## غلا شوې هیلې

*د ستورو غمیو د آسمان تیاره رنګ ته ښایست وربښلی وو او هره خوا خواره واره پراته وو.*

*ښکلا د کړکۍ تر څنګ ناسته وه او په آسمان کې یې په ځلیدونکو ستورو سترګی ګنډلی وې او د تېرو دوو ورځو پیښې یې په فکر کې ګرځیدې له ښوونځی ناهیلي راغلې وه هغه ورځ یې چې د ښوونځی کالي، بکس او بوټونه ایستلي وو تر اوسه یې بیا لاس نه وو وروړی د هغې په ګومان ټولې راتلونکي هیلې یې غلا شوې وې او بیرته یې لاسته راوړل ناشوني وو او نه یې غوښتل نور پدې اړه فکر وکړي کله کله به یې د خپلو ټولګیوالو ملګرو یاد ځوروله او په سترګو کې به یې د اوښکو پرده راغله خو ژر به یې [اوښکې] پاکې کړې له یوې شیبې کیناستو وروسته له خپل ځایه پورته*


افغان جرمن آنلاین په درنښت تاسو همکارۍ ته رابولي. په دغه پته له موږ سره اړیکه ټینګه کړئ maqalat@afghan-german.de
یادونه: دلیکنې د لیکنیزې بڼې پازوالي د لیکوال په غاړه ده ، هیله من یو خپله لیکنه له راالیږلو مخکې په ځیر و لولئ

*شوه بلې کوټې ته چې ورونه یې پکې ناست وو لاړه او د نیمګړې دستمال په اوبدلو لګیا شوه مصطفی په موبایل کې بوخت وو او یحیی د کتاب په مطالعه کولو بوخت وو په کوټه کې چوپتیا حاکمه وه، لږه موده  وروسته یحیی مصطفی ته په کتاب کې له یادی شوي ډاکټرې څخه ستاینه وکړه، ښکلا ټکان وخوړ په زړه کې یې چوپې او غلې شوي هیلې راوپاریدې په خوښی یې وویل: زه به هم همداسې ډاکټره وم یوه شیبه یې په زړه د خوښۍ ټکانونه احساس کړل خو ډېر ژر ترخو حقیقتونو پر راپاریدلیو هیلو غلبه وکړه او بیرته یې غلی کړې، پر زړه یې له زغمه اوچت بار احساس کړ ستونی یې په درد شو په غټو سترګو کې یې اوښکې را وخوټیدې غوښتل یې چغې وکړي او په لوړ آواز وژاړي خو د حالاتو نزاکت اجازه ورنه کړه چغې یې په زړه او ژړا یې په ستوني کې وساتله غلي له خپل ځایه پورته شوه او هغې کوټې ته لاړه چې څه موده مخکې پکې ناسته وه بیا  دکړکۍ تر څنګ کیناسته آسمان ته یې وکتل دا ځل آسمان ورته تیاره او بې ستوریو ښکاره شو ځان ورته هغه بې وسه کوتره ښکاره شو چې له خپلې ځالې څخه په یوه تیاره قفس کې بندیوانه شوي وي او ځاله یې بې کسه او میراته پاتې شوي وي.*

*پای*

تر پرونه پورې د نجونو د زده کړو په اړه د چارواکو پر ضد او نقیضه تلن لاره (پالیسۍ) باندې څوک نه پوهیدل داسې چې له یوې خوا په کابل کې پوهنتونونو ته نجوني درومي خو له بلې خوا د ښوونځیو نجوني په کور ناستې دي، په داسې حال کې چې د نجونو د زده کړو پروړاندې هېڅ ډول خنډ نه لیدل کیږي خو دا پالیسي هغه مهال په ډاګه شوه چې د تېرې سه شنبې په ورځ په کابل کې د اسلامي همکاریو پلاوی چې مشري یې د اسلامي فقهې د نړیوالې اکاډمۍ مشر (شیخ الحدیث مصطفیَ قطب سانو) کوله، د عدلیې وزیر مولوي عبدالحکیم شرعي سره ولیدل او د نجونو د ښوونځیو او ښځو پر حجاب یې خبرې وکړې چې په همدې موخه نوموړی پلاوی کابل ته راغلی ؤ.

عدلیې وزیر وویل: «که د افغانستان اسلامي امارت په رسمیت وپېژندل شي ډېر مشکلات به حل شي... .»

هغه زیاته کړه: «د اسلامي هېوادو لپاره هېڅ عذر نه شته چې اسلامي امارت په رسمیت ونه پېژني.»

د عدلیې وزیر د نجونو د ښوونځیو په تړاو ویلي: «موږ د اسلامي شریعت په چوکاټ کې د نجونو د زده کړو پلوي کوو. ښوونځي او مدرسې اوس هم فعال دي خو د اقتصادي ستونزو له امله نه شو کولای نجونو ته جلا مدرسې او ښوونځي جوړ کړو، ځکه چې امریکا د افغانستان شتمنۍ کنګل کړي او بانکي چارې دریدلي دي.»

د عدلیې وزیر په څرګندولو سره هغه آوازې رښتیا شوې چې د امارت چارواکي د نجونو د ښوونځیو د بندیدو په وسیله غواړي پر نړیوالو خپل حکومت په رسمیت وپېژني، دا چې ښاغلي شرعیي ویلي چې د اقتصادي او نورو ستونزو له امله ښوونځي تړل شوي دي یوه بې بنسټه خبره ده داسې چې د شپږم ټولګيو پورته ټولګي له امارت وړاندې، په جمهوریت کې له هلکانو جلا وو او اوس هم جلا دي. ښوونکي یې ښځې او سپین ږیري کسان وو، اوس هم په هماغه حالت دي، کالي یې ریښتنی اسلامي حجاب ؤ او دی، پخوانی درسي نصاب امارت چارواکو منلی دی، په ملیونونو کتابونه یې چاپ کړي دي او تر یوه ځایه د ښوونکو تنخواوې د ملګرو ملتونو د یونیسف ادارې په غاړه اخیستي وې، داسې مشکل نه لیدل کیږي چې د ښوونځیو د څنډ عامل وګرځي.

دا  چې د امارت چارواکي غواړي له دې لارې پر نړیوالو خپل حکومت په رسیمت وپېژني ګټور سیاست نه دی، د دوی د دغه عمل له کبله د نړۍ لخوا لاپسې ګوښه شوی دی.

د نړۍ په هېڅ کونج او کنار کې داسې هېواد نه شته چې د نجونو ښوونځي په کې نه وي پرانستي، چارواکو ته په کار ده چې له نړۍ یې زده کړې، په ځانګړې توګه اسلامي نړۍ ته وګوري د هغو پر پله پل کیږدي او خپلې کړنې سمې کړي.

مسؤل چارواکي باید خپل راتلونکی تاریخ په جدي توګه په پام کې ونیسي، د دوی هر ډول کړنې تاریخ ثبتوي، تاریخي بدنامي تر ټولو لوی زیان او نه پاکیدونکی داغ دی.

لکه وړاندې مو چې ویلي دي د افغانستان په تاریخ کې یوازې د سقاؤ زوی ؤ چې د نجونو ښوونځي یې تړلي وو چې د ښوونځیو د تړلو انګېزه د انګرېزانو لخوا د ځینو پیرانو او ملایانو پر مټ د غازي امان الله خان پر خلاف ورکړی شوي وه، انګرېزانو غوښتل زموږ خلک د جهالت په تیارو کې وساتي تر څو په دې وسیله وکړی شي افغانان په خپل کنټرول کې ولري، له انګرېزانو وروسته د انګرېز بچی پاکستان له آره په دې هڅه کې دی چې د خپلو سیاسي او اقتصادي موخو لپاره افغان ولس (لر او بر) په بې سوادۍ او ناخبرۍ کې وساتي تر څو زموږ هېواد یو کمزوری بې وسه او د تل لپاره دوی ته احتیاج او محتاج وي، پاکستانیانو د مهاجرتونو پر مهال د زده کړو په اړه زموږ د خلکو ذهنونه تر دې کچې مینځلي او اړولي وو چې مکتب د کفر او الحاد ښوونځی بلل کیده، د خوست د یوې غرنۍ سیمې یو باسواده کس چې په کابل کې د ښوونځي ښوونکي ؤ او د ډاکتر نجیب د حکومت له پرځولو وروسته او د هغه مهال د طالبانو په اصطلاح (د شر او فساد) حکومت په وخت کې خپلې سیمې ته کډه شوی ؤ، راته وویل چې ما په خپل جیب کې قلم نه شو ګرځولی، له دې وېرې چې که ځیني مجاهدین (؟) پوه شوي وای چې زه سواد لرم نو د دوی په نظر کافر بلل کیدم او هغه ښوونځي


افغان جرمن آنلاین په درنښت تاسو همکارۍ ته رابولي.  په دغه پته له موږ سره اړیکه ټینګه کړئ  maqalat@afghan-german.de
یادونه: دلیکنې د لیکنیزې بڼې پازوالي د لیکوال په غاړه ده ، هیله من یو خپله لیکنه له رالیږلو مخکې په ځیر و لولـئ




(په پاکستان کې د افغان ماشومانو لپاره د درسي نصاب یوه بېلګه)

چې په پاکستان کې د افغان مهاجرو لپاره جوړ شوي وو بې له جګړې او ورانیو نورې داسې ګټورې زده کړې نه په کې ورکول کېدلې چې د افغان ماشومانو او افغانستان په ګټه تمامې شوې وای.

چارواکي یا هغه کورنۍ چې د خپلو لونو او خویندو د زده کړو مخالفت کوي او په کور یې کېنوي د هغو ښځو په شان سزا ورکول دي چې د ګناه له امله په کورونو کې بندي کیږي چې په اړه یې د قرآن حکیم د نساء سورت په ۱۵ آیت کې یادونه شوې ده.

او باید زیاته کړو چې د ښځو په کور کېنول او تعلیم نه کول د عیسویانو د دین کړني دي، نه د اسلام د سپیڅلي دین ښوونې. د عیسویانو د (کورنتیانو په نوم د پولوس لیک لومړي باب، ۱۴برخه) کې راغلي دي:«ښځې دې غلې کېنې، هغوی ته د خبرو کولو حکم نه شته بلکې د شریعت په مطابق دې تابیعدارې اوسې. او که هغوی په څه خبره ځان پوهول غواړي نو له خپلو خاوندانو څخه په کور کې تپوس کولی شي.»

بل ځای وایي:«ښځې دې په خاموشۍ او په پوره تابعدارۍ سره زده کوي. او زه اجازه نه ورکوم چې ښځې د تعلیم ورکړي یا دې په خاوندانو حکم وچلوي، بلکې خاوشه دې پاتې شي. ځکه چې لومړی آدم پیدا کړی شو د هغه نه وروسته حوا. او په ادم دوکه ونه شوه بلکه ښځه په دوکه کې پرېوتله او ګناه ګاره شوه.» (د تیموتیوس په نوم د پولوس لیک، لومړي باب ۲برخه)

افغان زده کوونکي معصومې نجونې خپلو زده کړو ته نه پرېښودل کیږي چې په هغو کې د قرآن کریم، د پېغمبر(ع) سنت او د اسلامي فقهې زده کړې هم شاملې دي او پرته له کوم ګناه او جرم څخه زورول کیږي، مسؤلینو د ګناه لوی پېټې په خپلو اوږه پورته کړې دی:
﴿وَالَّذِينَ يُؤْذُونَ الْمُؤْمِنِينَ وَالْمُؤْمِنَاتِ بِغَيْرِ مَا اكْتَسَبُوا فَقَدِ احْتَمَلُوا بُهْتَانًا وَإِثْمًا مُّبِينًا﴾
ژباړه:«او کوم کسان چې مؤمنو سړیو او مؤمنو ښځو ته پرته له هغه عمل چې کړی یې وي تکلیف رسوي، د لویو دروغو او ښکاره ګناه پېټې یې پر اوږو اخیستې دی.» (احزاب: ۵۸)

نېټه: ۲/۴/ ۱۴۰۱ل. ل

نور بیا


افغان جرمن آنلاین په درنښت تاسو همکارۍ ته رابولي. په دغه پته له موږ سره اړیکه ټینګه کړئ maqalat@afghan-german.de
یادونه: دلیکنې د لیکنیزې بڼې پازوالي د لیکوال په غاړه ده ، هیله من یو خپله لیکنه له رالیږلو مخکې په ځیر و لولئ